دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او له اهل کتابو سره پرته له غوره اسلوب په بل ډول بحث مه کوئ مگر له هغو سره چې بې انصافي یې کړی.
غوره اسلوب دا دی چې ووایئ: موږ په هغه څه ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوي او زموږ او ستاسي معبود یو ذات دی. او موږ همغه ذات ته پوره غاړه ایښې ده.

(العنکبوت: ۴۶ آیت)

درس حدیث

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته د خپلو ځانونو په هکله د شپږو کارونو ضمانت راکړئ زه به درته د جنت ضمانت درکړم: ۱. کله مو چې خبرې کولې ربښتیا ووایئ. ۲. کله مو چې ژمنه او وعده وکړه وفا پرې وکړئ. ۳. کله چې یو چا درسره امانت کېښود نو سلامت یې وروسپارئ. ۴. خپل شرم ځایونه له بدو وساتئ. ۵. خپلې سترگې د نامحرمو له لیدو نه بښکته کړئ. ۶- او لاسونه مو چاته د زیان رسولو نه رابند کړئ.

(مسلم)

شهادت دریم کال، ۴ مه گڼه، پرله پسې ۱۰۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وري ۳۱ مه د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الاول ۱۷ مه د۲۰۱۱ م د اپریل ۲۰ مه

د تروریزم ریښې له افغانستانه دباندې دي "ایکن بیري"

کندهار، رسنی:
د امریکا سفیر ایکن بیري د وری په ۲۹ مه په کندهار کې وویل چې د تروریزم ریښې له افغانستانه دباندې دي او امریکا د تروریستانو د ریښو او ځالو د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کوي.
کارل ایکن بیري دا څرگندونې کندهار ولایت ته د خپل سفر پر مهال وکړې او ویې ویل چې متحد ایالتونه له افغانستان سره دوامدارو مرستو ته ځان ژمن بولي.
د کندهار ولایت د مطبوعاتي دفتر له یوې خبرپاڼې سره سم ایکین بیري د دوشنبې په سهار کندهار ته له رسېدو وروسته لومړی خاکرېز ولسوالي ته لاړ او هلته یې له ولسوال، قومي مشرانو او امنیتي چارواکو سره وکتل. هغه په یاده ولسوالي کې د پرمختیایي پروژو، امنیتي چارو او حکومتداری څخه له نژدې جاج واخیست او هلته یې اوسنی حالت د تېر هغه په پرتله زیات ډاډمن وباله.
د ده په وینا د ولسوالي اوسېدونکو ورته ویلي چې امنیت زیات ښه شوي او د نوي کال د میلو نمانځنې لپاره تر شل زره څخه زیات کسان د شاه مقصود علیه رحمه مزار ته راغلي ول.
د امریکا سفیر له غرمې وروسته کندهار ښار ته لاړ او هلته یې له والي، ښاروال، امنیتي چارواکو، سیکتوري رئیسانو، د ناحیو وکیلانو ، دولتي مامورینو او گڼ شمېر کندهار ښاریانو سره په یوه غونډه کې گډون وکړ.
ایکن بیري د کندهار ښاروالی په ریاست کې ماپښین یوې خبري غونډې ته وویل چې هیواد یې د افغانستان او د دې هیواد له خلکو سره خپلو دوامداره مرستو او ستراتیژیکو اړیکو ته ژمن دی او له ۲۰۱۴ کال وروسته به هم، چې افغانانو ته د واک سپارلو وروستی نېټه ده، امریکا له افغانستان سره خپلې مرستې جاري وساتي.
هغه زیاته کړه چې هیواد یې په افغانستان کې د سولې او بیا یو ځای کېدنې د پروسې هر اړخیز ملاتړ کوي او د نړیوال تروریزم پر ضد په مبارزه کې هم له افغانستان سره خپلو ژمنو ته وفاداره دی.
نوموړي وویل چې د تروریزم ریښې او د تروریستانو پټن ځایونه له افغانستان څخه بهر دي او امریکا به کوښښ وکړي چې تر وروستي حده پورې ددې ریښو او پټن ځایونو د له منځه وړلو لپاره کار وکړي.

پاکستان روی بعضی مجبوریت ها سیاستش را در قبال افغانستان تغییر داده است

کابل، رسانه ها:
پس از سفر یوسف رضا گیلانی صدراعظم پاکستان به افغانستان تعدادی از تحلیل گران این سفر مقامات پاکستانی را زمینه، برای
گوید: به نظر می رسد که بعضی از مجبوریت های داخلی و خارجی در پاکستان سبب گردیده تا این کشور در سیاست خود در قبال افغانستان و منطقه تغییر وارد نماید.

تغییر در سیاست آن کشور در برابر افغانستان و کشور های منطقه می خوانند.
وحید مژده یک کارشناس افغان می
به باور آقای مژده قرار داد استراتیژیک میان افغانستان و ایالات متحده امریکا و ایجاد پایگاه های

بقیه در صفحه ۴

مصاحبه اختصاصی روزنامهء الشرق الاوسط با جنرال ویلیام کالدول:

در حال حاضر فقط ۳.۷ فیصد سربازان اردوی ملی پشتون هستند

گران افغانستان:
لندن:- مسئول آموزش نیروهای امنیتي افغانستان اعلام کرد که این نیروها مي توانند قبل از پایان سال ۲۰۱۴ مسئولیت تامین امنیت کشور را در دست بگیرند.
به گزارش گران افغانستان، جنرال ویلیام کالدول، قوماندان ارشد سازمان پیمان آتلانتیک شمالي (ناتو) و مسئول آموزش نیروهای امنیتي افغانستان، در مصاحبه اختصاصی با روزنامه عربی زبان الشرق الاوسط در سفارت امریکا در لندن، اعلام کرد که نیروهای امنیتي افغانستان مي توانند قبل از پایان زمان تعیین شده توسط ناتو یعني سال ۲۰۱۴ مسئولیت امنیتي کشور را در دست بگیرند و امنیت و ثبات افغانستان را تامین کنند.
وي که از نوامبر ۲۰۰۹ مسئول آموزش نیروهاي امنیتي افغانستان است، اظهار کرد: روند جلب سربازان در افغانستان از ۸۰۰ سرباز

بقیه در صفحه ۴

پنتاگون پر امریکایي اداري سختې نیوکې کړې دي

روهي ویب:
پنتاگون درواني میاشتي پر اتمه نېټه د (ملي ستراتیژی) تر سرلیک لاندې یو راپور خپور کړې دی او دامریکایي اداري پر لومړیتوبونو یې سختې نیوکې کړې دي او داسلامي نړۍ په اړه یې دامریکا دریځ له مبالغې ډک بللي دی او دا یې زیاته کړې ده ،چې امریکا په اسلامي نړۍ کې دربښتیني پرمختگ پر حساب امنیتي گواښونو ته ډېر ارزښت ورکوي .
دراپور لیکونکي دامریکا په پوځ کې دوه لوړ پوړي چارواکي دي ،چې دا راپور یې په شخصي توگه کښلي دی په بله مانا تر هغې ، چې منل شوې نه وي خپرېږي به نه ، خو (فارن پالیسی) له همدې دوو چارواکو څخه رااخستي دی .
راپور دامریکا پر هغې کړنلارې نیوکې کړې دي ،چې له مخې یې خپل لومړیتوبونه ټاکي

پاتې ۴ مخ

قرآن سوزی؛ جهان سوزی!

صفحه سوم

ستراتیژیک پلان گټې او تاوانونه

(یوه لنډکی شننه)

فدا محمد فایض

د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیک پلان د لاسلیکېدو گونگوسې خو له هغه مهاله د ارگ له دروازو کړکیو بهر راووتې چې د امریکا د مشرانو جرگې یو پلاوی کابل ته راغی او له اولسمشر کرزي سره یې وکتل او بیایې د همدې کتنې پر مهال کرزي ته وویل چې موږ په افغانستان کې پوځي اډې غواړو. که څه هم د امریکا د دفاع د وزیر رابرټ گیتس په گډون مختلفو امریکایي مقاماتو د پوځي اډو خبره رد کړه، خو دا ردول د افغان اولس له اغفال وراخوا نور هېڅ هم نه و.
د روان کال (۱۳۹۰) د وري پر دوه ویشتمه اولسمشر کرزي په یوه خبري کنفرانس کې له امریکا سره د ستراتېژیک تړون خبره بربنډه کړه او ویې ویل چې موږ خپل شرایط لرو او د امریکا لاسونه او پښې موښې تړلې دي، دا هم د افغان اولس د اغفال یوه هڅه وه. حقیقت دا دی چې امریکا په افغانستان کې پوځي اډې غواړي او دا یې یوه ستراتیژیکه اړتیا ده، دا چې امریکا ولې افغانستان او بیا عراق ته راغله پر دې سیاسي شنونکو او کارپوهانو تفصیلي لیکنې هم کړې دي او څرگندونې هم او دا اوس کومه ناڅرگنده خبره نه ده؛ پر دې افغان اولس هم اوس ښه پوهېږي او د سیمې او گاونډ هېوادونه هم، چې دلته په دې باب نه غږېږم له اوسنیو جریاناتو نه څرگندېږي چې دا سند لاسلیکېدونکی دی، د اولسمشر له څرگندونو هم دا خبره جوته ده او د مشرانو جرگې خو لا دمخه د امریکا د سپریدا لپاره خپل اوښ چو کړ او تقریباً دې ته ورته دریځ د اولسي جرگې د غړو هم درواخله. اولسمشر چې د کومې لویې جرگې د جوړولو خبره کړې ده، له یوې خوا دا لویه جرگه هېڅ ډول مشروعیت نه لري؛ ځکه کله چې په اساسي قانون کې لویه جرگه تعریف شوه، بیا نو عنعنوي لویه جرگه هېڅ معنا نه لري نه یې تدویر مشروعیت لري او نه یې پرېکړې. ددې تر څنگ موږ د اولسوالیو شوراگانې نه لرو چې په دې توگه به د قانوني لویې جرگې تقریباً نیمایي برخه په جرگه کې حضور نه لري او دا تشه به اولسمشر په ناقانونه توگه په انتصابي بڼه ډکوي او معلومه ده چې د دولتي مزاج سره برابر کسان به ورته راولي چې د دولت د ستر گو په اشارو کار کوي. دا به هغه کسان وي چې فقط د یو څو "بدمرغو "په بدل کې به د هېواد پر ملي گټو معاملې ته چمتو وي.

پاتې دویم مخ

د هند سرقونسل:

د۱۳۹۱ کال د مرغومي تر پایه به د سلما بند جوړ شي

هرات، پژواک:
"د سلما بند جوړول په افغانستان کې د هندوستان د اعتبار یوه برخه ده او دغه هېواد به هېڅکله د دې سترې پروژې له جوړولو څخه په شا نه شي."
دغه مطلب په هرات کې د هندوستان سرقونسل تاراچند (Tara Chand) (د وري ۲۹مه) له پژواک خبري اژانس سره د یوې ځانگړې مرکې په ترڅ کې په ډاگه کړ.
تاراچند، د سلما بند پروژې د بندولو په اړه، له ایران سره د دې هېواد د احتمالي معاملې په اړه خپاره شوي خبرونه په کلکه رد کړل.
د سلما بند د هندوستان په مرسته د هرات ښار په ۱۶۲ کیلومترۍ کې په چشت شریف ولسوالی کې د هریرود پر سیند جوړېږي.
وروسته له هغه چې د سلما بند د کار له دوام

پاتې ۴ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

تشې وعدې نه، عملي ګامونه اوچت کړئ

د تېرې هفتې په ماسپښین چې د وری په ۲۷ مه د جمهوري ریاست په ارګ کې یوه خبري کنفرانس جوړ شوې و، د پاکستان صدراعظم ښاغلی ګیلانی او د افغانستان ولسمشر ښاغلی کرزي پخپلو ویناو کې ددې خبرې څرګندونه وکړه چې موږ دواړو په دې ټکي توافق کړی دی چې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره د پاکستان او افغانستان د ګډ کمیسیون مشري به د دواړو هېوادو لوړ پوړی چارواکی پخپل غاړه اخلي، د پاکستان له لوری به ددغه هېواد لومړی وزیر، د پوځ لوی درستیز او د آی ایس آی مشر، او د افغانستان له لوری به ولسمشر کرزی او د سولې د شوری مشر ددغه ګډ کمیسیون غړیتوب ولري.

تر دې مخکې ددغه کمیسیون مشري د دواړو هېوادو بهرنیو چارو وزیرانو کوله خو اوس به یې مشري د افغانستان ولسمشر او د پاکستان لومړی وزیر له خوا کېږي.

دغه خبري کنفرانس ته د دواړو هېوادو د مشرانو دغه ګډه مطبوعاتي وینا افغان او پاکستاني ولس ته یو ښه پیغام دی او دهغې شیبې په انتظار دي چې عملي نتیجه یې هم د دواړه هېوادو ولسونو ته اعلان کړي.

پاکستان او افغانستان دواړه داسې نژدې ګاونډي هېوادونه دي چې پخپلو کې سره د وروروولي ژورې ریښې لري په دواړو هېوادو کې د یو نسل او د یوې ژبې پر ګنی هستوګن دي، پخپلو کې له یو بل نه یې ودونه کړي غم او درد یې یوه او وینه یې شریکه ده، تر ټولو مهمه دا چې د دواړو هېوادو ولسونه د اسلام د سپېڅلی دین په عقیده سنبال، او د تسبیح د دانو په څېر په یوه مضبوطه رسی کې پیرل شوي دي. د افغانستان او پاکستان د ولسونو په زړونو کې له یو بل سره د مینې او وروروولي احساسات له هیڅا پټ نه دي، په ځانګړی ډول د افغانانو په زړونو کې چې د پاکستاني ولس څومره مینه ده هغه بې ساری او د لېدو وړ ده، له دیرشو لکونه زیاتو افغانانو د پاکستان په خاوره کې د هجرت اوږد ژوند تېر کړي دی، ډېر دوستان او ملګري لري، پر یو بل قوي باور او بروسه لري، ګډه کارو بار او تجارتونه لري. لنډه یې دا چې د افغانستان او پاکستان د ولسونو ترمنځ وروروولي او دوستانه اړیکې بې مثاله دي، هر یو پخپلو کې د یو بل خوشالي او پرمختګ غواړي. دا نشي زغملی چې ددوی د وروري او دوستی دغه اړیکې وشلېږي او له یو بل نه جلا کړی شي، خو له بده مرغه د دواړو هېوادو چارواکي د خپلو ولسونو ددغو اوچتو احساساتو او جذباتو قدر نه کوي او دېته نه ګوري چې دواړه ولسونه د خپلو چارواکو پر بې اتفاقیو او اختلافاتو اندېښمن دي، نو څکه د دواړو هېوادو چارواکو ته پکار دي چې د خپلو ولسونو د دغو نېکو او پاکو احساساتو په نظر کې نیولو سره د داسې قدم له اوچتولو څخه کلکه ډډه وکړي چې د دواړو هېوادو ولسونو په تاوان وي.

د یوولسم سپټمبر له پېښې وروسته چې د ترهګری تر عنوان لاندې پر افغانستان کوم پوځي یرغل شوې او سیمه د جنګ ډګر ګرځیدلې تاوان یې دواړو هېوادو ته متوجه دی د همدغو دواړو هېوادو ولسونه له ځاني او مالي تاوان سره مخامخ شوي، دلته هم ناامني ده او هلته هم، دا څکه چې دواړه هېوادونه پخپلو کې دهغه توام الجسد ماشومانو په څېر دي چې پخپلو کې سره نښتي وي.

د دواړو هېوادو چارواکي دی دا واقعیت درک کړي چې افغانستان او پاکستان دواړه د یو بل ضرورت دی، د یو بل له همکاری او مرستې پرته یو هم نشي پائیدلې، که الله مکړه افغانستان خپل آزادي او امن له لاسه ورکوي پاکستان هم خپل آزادي نشي ساتلې، او که پاکستان خپل بقاء له لاسه ورکوي نو په ځنګ کې پروت یو کمزوری افغانستان هم خپله بقا نشي تأمینولې. د دواړو هېوادو د ولسونو او چارواکو ګټه به یوازې په دې کې وي چې پخپلو کې د یو بل ضرورت هم ومني، او هر یو پخپل ځای خپل خپل مسؤولیتونه هم وپیژني.

څرنګه چې پاکستان په پوځي اقتصادي او نورو ټولو عرصو کې له افغانستانه زیات پرمختللي هېواد دی نو همدومره زیات مسؤولیت هم لري چې په افغانستان کې د امن او ثبات راوستو لپاره زیاتې هلې ځلې وکړي او دا دروند پېټي یوازې د افغانانو پر اوږو وانچوي.

د دواړو هېوادو ولسونه یقین لري چې که چېرته پاکستاني او افغاني چارواکي په بشپړ اخلاص یو بل ته د وروري او ګاونډیتوب لاسونه ورکړي او په افغانستان کې د امن د راوستو لپاره خپل اسلامي او ملي مسؤولیت ترسره کړي نو د اوږدې مودې راهیسې د راروانې ناآرامۍ لمنه به راټوله، او دواړو هېوادو کې به د امن فضا حاکمه شي، که الله مکړه د پخوا په څېر د خپلو مسؤولیتونو په ترسره کولو کې پاتې راغلل او هسې په تشو خبرو او وعدو بسنه وکړه نو دواړه هېوادونه به د ناامنی د اور په لمبو کې وریت او هر څه به یې لولپه کېږي.

ستراتیژیک پلان ګټې او زیانونه

په هر حال دا پلان به بې له شکه افغانستان ته یو څه ګټې هم ولري او زیانونه هم. ګټې به یې دا وي چې امریکا د افغانستان په بیارغاونه کې یو څه مرسته کوي او نور هېوادونه به هم دې ته هڅوي، د افغان ملي اردو او ملي پولیسو په روزنه کې به څه ناڅه کومک کوي او دغسې به یې په تجهیز او تسلیح کې هم لاس امداد کوي، خو زیانونه به یې په کراتو زیات وي؛ د بېلګې په توګه:

دا که موږ ومنو او که یې ونه منو، د امریکا د حضور پر مهال او بیا یې د اوږدمهاله شتون په صورت کې د افغانستان سیاسي استقلال او ملي واکمني تر پوښتنې لاندې راځي، امریکا همدا اوس هم افغان دولت ته د توت د یوې پاڼې په اندازه ارزښت نه ورکوي، که نه؛ دا دومره ملکي تلفات به نه کېدل. همدا اوس زموږ د لوړ پوړو دولتي چارواکو په ګومارنه کې هم د امریکا خوښه خپل رول لري؛ ان چې یو شمېر والیان هم د اولسمشر فرمان نه‌ګولای شي، بیا خو نو چې په علني توګه ورسره ستراتیژیک پلان هم لاسلیک کړای شي. هغه متل دی چې: غویې لا حلال نه؛ خنکې پر سرایښي. تر اوسه خو لا لویې جرګې ته وخت شته او دا خبره هسې د استمزاج په موخه د پردې له شانه، د پردې مخې ته راوایستل شوه؛ خو زموږ د ملي شورا یو شمېر غړي او دغسې هغه اپوزیسیون چې وایي د هېواد د نیک بخته کولو لپاره له ځانه سره د تغییر او امید پلان لري لادمخه دې ډول ته لستوني غورځوي؛ دا ځکه چې هغوی له خدایه نهیلي شوي او خپل عزت او ذلت د امریکا په خوښه او ناخوښۍ کې ګوري، همدارنګه هغو ګنو احزابو چې په ریښتیا یا درواغو یې یو څو تذکرې پیدا کړې او ځانونه یې له عدلیې وزارت سره راجستر کړي دي، هم ګونګه روژه نیولې، هغه معترض کاندیدان هم چې هره ورځ به یې د ډولونو په غړولو سره خپلو اعتراضونو ته رنګ او خوند وربښه هم داسې غلي دي چې سپړ یې له خولې نه راوځي.

زه فکر کوم دا سکوت، یو مرګوني سکوت دی، دا به هېواد ته په لویه بیه تمام شي. همدارنګه د علماوو محترمې شورا هم خوله ګنډلې او سترګې یې پټې کړې دي. د قومي مشرانو خولې هم داسې بربېني چې د چا خوږې کړای شوي او چاته یې تمه ورکړې ده.

که څه هم اولسمشر د سولې تأمین ددې پلان د لاسلیک په اړه د یوه مخکني مهم شرط په توګه په ګوته کړ، خو زه وایم چې:

لومړی خو سوله داسې څه نه ده چې هغه د امریکا په لاس کې ده، بلکه خبره داده چې امریکا، افغانستان ته د سولې په راستنولو کې صادقه نه ده د امریکا خو ګټه په همدې خړو اوبو کې ده، که چېرې جنګ نه وای او امنیت ټینګ شوی وای، بیا نو امریکا په کومه خوله، له افغانستانه نظامي اډې غوښتلای شوای.

زه دا هم چې په افغانستان کې د امریکا دایمي حضور، هغه ګاونډي هېوادونه چې د امریکا له حضور نه ویره لري لا د افغانستان پرخلاف راقهرولی شي دا هم ویل کېږي چې کوم کسان انتحاري بریدونه کوي، دومره زیات دی چې په لمبر انتحار ته ناست دي او د خپل نوبت انتظار کوي.

ددې اټکل هم کیدای شي چې دا ستراتیژیک ترون لاسلیک شي لږ تر لږه به د سیمې هغه هېوادونه چې د امریکا له حضوره ویره لري، نور هم سره نژدې کړي، لکه د شانګهای په ترون کې شامل هېوادونه او دغه حرکت دراتلونکو حرکتونو پیلامه ګڼلای شو.

که نن امریکا د خپل پر نفرعن ولاړ مزاج له مخې د حال پېږبه د انا ربکم الاعلی ادعا کوي، ښایي یو شمېر ډارن هېوادونه او واکمنان ورته سرټیټ کړي، خو ټول خو دا خبره نه مني؛ صدام حسین د امریکا دا غوښتنه چلنج کړه چې له عراقه ووځي او امریکا ته یې پرېږدي، لکه چې سعودي ورته د پناه ورکولو ست هم وکړ، په همدې توګه د رفیق حریری په وژنه کې د لبنان پر حزب الله د حریری د مرګ تور بېرته واخستل شو، دا اوس قذافي لګیا دی د امریکې او فرانسې یا په مجموع کې د ناټو د نظامي مداخلې په وړاندې جنګېږي، ایران او پاکستان هغه ده لګیا دي د امریکا حضور نه‌ګوي دا چې په کومه بڼه یې نه‌ګوي دا بیا جلا خبره ده، نو پر دې اساس د امریکا نظامي اډې هېڅکله هم په افغانستان کې د امنیت د تأمین ضمانت نه شي کولای، لکه په جنوبي کوریا کې چې د امریکایي اډو او شتون سره سره هم د شمالي کوریا د توغندیو ننبه ګرځي، که چېرې ناټو په ټول زور او قوت سره ونه کړای شو چې په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې د مداخله ګرو هېوادونو مخه ونیسي نو تر دې وروسته یې څه ډول نیولای شي.

په ناټو کې هم خپل داخلي رقابتونه موجود دی، او دا واقعیت هېڅکله له پامه نه شو غورځولای. نو پر دې اساس زه په ټولې افغاني خواغږ کوم چې د داسې منډې تکل دې نه کوي چې په راتلونکې کې یې دوه دیرش غابښونه ټول ووځي.

سوله د افغانانو شعار دی

محمد خلیل

تېره اوونی د پنجشنبې په ورځ د تغییر او امید د ائتلاف مشر ښاغلی عبدالله عبدالله وویل چې که ولسمشر کرزی پخپل حکومت کې اصلاحات رانه ولي نو د منځنۍ ختیځ د هېوادونو په څېر به دلته هم پاڅونونه وشي.

ډاکتر عبدالله له وسله والو طالبانو سره د جوړ جاړې په برخه کې هم پر ولسمشر نیوکی وکړې، هغه وویل چې د طالبانو لاسونه د خلکو پر وینو سره دي، نوموړی زیاته کړه په دې سربېره چې طالبان افغانان وژني خو حامد کرزی یې ناراضه شوې ورونه بولي.

د ښاغلی عبدالله له دې غوښتنې سره خو څوک اختلاف نه لري چې ولسمشر کرزی دې پخپل حکومت کې اصلاحات راولي ځکه چې دا د هر افغان غوښتنه ده چې په حکومت کې دی هر اړخیز بنسټیز اصلاحات راوستل شي تر څو هېواد د ښه حکومت داري په لورې پرمختګ وکړي. خو ولس نه پوهېږي چې ښاغلی عبدالله په حکومت کې دڅه ډول اصلاحاتو غوښتونکی دی او هغه اساسي اصلاحات کوم دي چې راوستل یې ضروري دي؟ آیا د عبدالله غوښتنه دا خو نه ده چې د حکومت ټول کلیدي څوکی دې د یوې ډلې پورې تړلي نازولو ته ورکړی شي.

پکار خو دا و چې نوموړی دهغو اصلاحاتو یادونه هم کړی وای چې ددې په اند خورا اړین دی او ملت ته هم معلوم شوی وای چې نوموړی په حکومت کې څه ډول اساسي بدلون غواړي. خو داسې معلومیږي چې ښاغلې عبدالله سره یوازې له سیاست بازۍ نه پرته د اصلاحاتو په اړه هېڅ مواد نشته.

پر ولسمشر د عبدالله دا نیوکه چې د طالبانو لاسونه د افغانانو په وینه سره دي مګر کرزی بیا هم خپل ناراضه ورونه بولي او ورسره د جوړ جاړې هلې ځلې کوي، ولس ته د منلو نه ده ځکه چې سوله د افغانانو ستر ضرورت دی او له دې پرته په افغانستان کې آرام ژوند تېرول ناشونې دی، امن او ثبات له سولې او روغې جوړې سره تړل شوی لازمي څیز دی که سوله نه وي نو امن هم نشي راتلی او چې امن نه وي نو آرام او سکون ژوند هم نشي تأمین کیدلی.

د افغانستان وګړي ددې باوجود چې ډېری طبعي زیرمې لري، په یوه ښه جغرافیایي موقعیت کې قرار لري او د آسیا زړه ګڼل کېږي مګر ددومره لویو نعمتونو ترڅنګ بیا هم د نړی د فقیر ترینو هېوادو د فهرست په سر کې دی او دوه وخته په مړه ګېډه وچه ډوډۍ ورته هم نه پیدا کېږي.

لنډه یې دا چې د افغانستان وګړي د ژوند په هر ډګر کې وروسته پاتې دي، د نورو هېوادو په پرتله ددې زمانې له ټولې ټکنالوژۍ بې برخې دي او د خپل عمر هره شیبه په غم، درد، آه و فریادونو کې تیروي. که چېرته ډاکتر عبدالله او دهغه هم فکره ملګري چې د اروپا او امریکا د سرمایه دارو په څېر په عیش او عشرت کې ژوند تیروي لږ تر لږه یوه میاشت د افغانستان د غریبو وګړو په کور او کلي کې ژوند تیر کړي له هغوی سره یو ځای خوراک څښاک وکړي د ویرې او ترهې په فضا کې ژوند تېر کړي نو په افغانستان کې د روغې جوړې د راوستو چیغې به یې آسمان ته وخیژي، همدا عبدالله او ددې نور ملګري به د امن د راوستو نغاره په غاړه واچوي او د سولې شعارونه به زمزمه کړي.

جناب عبدالله او دده په څېر ځینې نور اشخاص چې له مخالفینو سره د سولې هلې ځلې ردوی او هغوی ته د ورور ویلو له ټکي سره مخالفت کوي نو له هغوی سره ددې بل نعم البدل څه شی دی؟

آیا هغوی ته دښمن به ویلو سره لانجې او جګړې ختمیدلې شي؟ که ختمیدلې شوای نو بیا د تېرو دریو لسیزو راهیسې ولې د جنګ او ورور وژنې لړی ختمې نه شوی؟ ولې په افغانستان کې ثبات او تلپاتې سوله تأمین نه شوه؟ ! له همدېنه معلومېږي چې د جنګ او جګړی له تورو لوخړو څخه د نجات یواځینې لاره پخپلو منځو کې سوله او د وروروولي اړیکې ټینګول دي، موږ به هله د سولې په راوستو بریالی شوو چې یو بل ته ورور نه ووایو، یو بل ته د روغې جوړې غېږه پرانیزو، او د یو بل په خلاف زشت الفاظ استعمال نه کړو.

ښاغلی عبدالله او دهغه هم غړی دې دا واقعیت ومني چې د افغانستان مظلوم او کړېدلې ولس له سولې او روغې جوړې پرته بل هېڅ لاره پرمخ نه لري، دښمني او جګړو ورته له لوږی، تندی، محتاجی، فقر، بدامنې او غلامی پرته بل هېڅ ګټه نه ده رسولې، نو ځکه د ټولو بااحساسو او له خپلې عقیدې او خاوری سره مینه لرونکو افغانانو لومړنۍ غوښتنه سوله او پخپلو منځو کې روغه جوړه ده ځکه چې یوازې د همدې لارې افغانستان د پرمختللیو هېوادو په قطار کې راتلی، او افغانان د یو آرام او هوسا ژوند له خوږ نعمت څخه برخمن کیدلې شي. که څوک یې غواړي یا نه سوله د افغانانو شعار دی او لدې شعار نه کله هم نه وروسته کېږي. افغانان د کرزي د هر هغه اقدام کلک ملاتړ کوي چې د سولې او یووالي لپاره اوچتوي او د هر هغه اقدام کلک مخالفت کوي چې د سولې او یووالی پر ځای جنګ جګړې ته لمنه وهي.

قرآن سوزی؛ جهان سوزی!

اعزامی

هفته قبل ملت مسلمان افغان عزادار بود و طی آن توده های میلونی مردم در مرکز و ولایات کشور با راه اندازی راه پیمایی ها و تظاهرات عظیم، نفرت و انزجار عمیق شان را در برابر عمل جنایتکارانه قرآن سوزی توسط (تری جونز) کشیش متعصب و افراطی کلیسای ایالات فلوریدای ایالت متحدهٔ امریکا ابراز داشتند. همین کشیش در سال گذشته تهدید کرده بود که در صورت اعمار مسجد مسلمانان در نزدیکی مرکز تجارت جهانی، دست به جنایت قرآن سوزی می زند، ولی بنابر تهدید مسلمانان و مداخله مقامات رسمی امریکا، نامبرده در آن وقت، ازین عمل باز داشته شد، ولی او منتظر فرصت بود تا عمل جنایتکارانه خویش را جامه عمل بپوشاند که بالاخره چندی قبل موفق به اجرای آن شد. قرآن سوزی و سایر اعمال توهین آمیز مسیحی های متعصب در برابر مقدسات مسلمانان، پدیده تازه ای نیست و همچو اهانت ها هراز چند گاهی در کشورهای غربی صورت گرفته است. زمانیکه این عمل جنایتکارانه دو هفته قبل بدست کشیش نامبرده ارتکاب یافت، بجز از مسلمانان دیگر همه زعماء و زمامداران لشکری و کشوری دنیای غرب در قبال آن خاموش ماند و شاید هم در دل از آن عمل راضی بودند، ولی وقتیکه این خبر در رسانه ها درز کرد و مسلمانان از آن آگاهی یافتند، سلسله محکوم کردن ها شروع شد و در این ضمن زعامت دولت افغانستان نیز طی صدور اعلامیه ای این عمل جنایتکارانه را تقبیح نمود.

با شایع شدن این خبر در رسانه ها عدهٔ از مردم عمل آتش سوزی قرآن بدست آن کشیش را در صفحه تلویزیون ها ملاحظه کردند و با دیدن آن، احساسات و غیرت ایمانی مسلمانان به جوش آمد و با راه اندازی تظاهرات و راه پیمایی های شاندار، نفرت و انزجار عمیق شانرا در برابر این عمل ننگین به نمایش گذاشتند. بنابر عدم کنترول خشم و غضب مردم و یا در اثر نفوذ عناصر افراطی و شاید هم بنابر اشتباه افراد امنیتی، این تظاهرات در شهرهای مزار شریف و کندهار به تشنج و درگیری منجر گردید و جمعی از هموطنان ما و کارمندان خارجی کشته و زخمی گردیدند. با دیدن این وضعیت و داشتن هراس از گسترش آن، بعضی از زعمای غرب، جنایت قرآن سوزی را محکوم کردند و اظهار داشتند که این عمل کار تمام مسیحی ها نه، بلکه عمل شخصی (تری جونز) می باشد.

بانکی مون منشی عمومی ملل متحد در نیویارک و نمایندهٔ وی در کابل، زمانی عمل کشیش مذکور را محکوم کردند که مظاهره چیان خشمگین، پس از داخل شدن به ساختمان نمایندگی ملل متحد در شهر مزار شریف، هفت نفر از کارمندان آنرا به قتل رساند و دهها تن دیگر درین تظاهرات مجروح گردیدند، دی مستورا نماینده ملل متحد در کابل، با صراحت اعلان داشت که مقصر اصلی کشتار افراد بی گناه تری جونز است و او باید به جرم سنگین خود به میز محاکمه کشانیده شود. به دنبال این تحول مقام های آیساف و ناتو نیز طی نشست خبری در کابل به آتش کشیده شدن قرآن کریم توسط کشیش امریکایی را به شدت محکوم کردند. دیوید پتریوس فرمانده ناتو و مارک سدویل نماینده ملکی آن سازمان در یک کنفرانس خبری گفتند که عمل تری جونز، منعکس کننده مفکورهٔ کشورهای نیست که در افغانستان حضور نظامی دارند و ما قرآن سوزی را عمل نفرت انگیز و توهین آمیز دانسته و آن را محکوم می کنیم. در یک تحول دیگر فرمانده ناتو، نمایندهٔ ملکی آن سازمان و سفیر ایالات متحده امریکا در کابل به جلسه شورای امنیت ملی تحت ریاست حامد کرزی فراخوانده شدند. رئیس جمهور با تکرار تقبیح عمل کشیش امریکایی از سازمان ملل متحد و حکومت امریکا خواست تا بخاطر فرو نشاندن خشم و غصهٔ مسلمانان، تری جونز عامل قرآن سوزی را هر چه زودتر به پنجه قانون سپرده و مجازات کنند. رئیس جمهور در خطاب به نماینده گان نظامی و ملکی ناتو و سفیر ایالات متحده امریکا در کابل گفت: حکومت، سنا و کانگرس امریکا باید به الفاظ صریح عمل کشیش را محکوم نمایند و اطمینان بدهند که در آینده همچو عملی بدست کشیش های افراطی تکرار نمی گردد تا بدینوسیله خشم و غضب مسلمانان فروکش کند، مگر مقامات آن کشور با دیوانه و احمق خواندی تری جونز از مجازات او طفره می روند، زیرا ظاهراً دیوانگی و حماقت (عدیم الاهلیت) بودن از نگاه حقوقی مانع تعقیب جزائی وی می شود. ولی روح مطلب در اینست که بنابر گفته تحلیل گران غرب از آن جمله (مایکل شرکن) در مصاحبه با رادیوی آشنا صدای امریکا، بنابر حکم قانون امریکا، تری جونز با سوختاندن قرآن، کدام جرمی را مرتکب نگردیده و مقامات عدلی آن کشور قانوناً حق اقامه دعوا و مجازات او را ندارند. محکوم کردن و شنیع خواندن عمل کشیش مزبور توسط مقامات امریکایی و سازمان ملل، فقط به خاطر اطفای خشم و غضب مسلمانان بوده و تا هنوز کدام اقدام قانونی در برابر او اتخاذ نگردیده است.

درین شکی نیست که ملت مسلمان افغان با ابراز عکس العمل جدی و خشمگینانه در برابر عامل قرآن سوزی در حقیقت، یکبار دیگر به جهانیان ثابت کردند که این ملت مؤمن در جهت حفظ مقدسات اسلامی و ایفای رسالت ایمانی، از ملامت هیچ ملامت کنندهٔ هراس ندارند و شخص موهن به مقدسات، هر کی باشد، در هر کجا و در هر مقامی که قرار داشته باشد، از نظر مسلمانان پنهان مانده نمیتواند و همچو اشخاص گستاخ دیر و یا زود به جزای اعمال شان می رسند، ولی قبل از آنکه مسلمانان درین رابطه دست بکار شوند، بر مدعیان دموکراسی و آشتی دهندگان ادیان و تمدن ها است که به همچو عناصر موذی اجازه ندهند که با عمل ننگین سوختاندن قرآن، جهان را بسوزاند و قلب های یک و نیم ملیارد مسلمان جهان را جریحه دار کنند.

ملت و دولت افغانستان از مقامات دولت امریکا توقع دارد که تنها به محکوم کردن عمل کشیش نامبرده اکتفا نکنند، بلکه او را به عنوان مقصر اصلی کشتار افراد بی گناه و عامل ویرانی بی شمار در افغانستان و سایر بلاد اسلامی به میز محاکمه بکشانند و او را چنان مجازات نمایند تا مایه پند و عبرت برای اخلاف و همتایان او گردیده در آینده هیچ رهبان و کشیشی، جرئت قرآن سوزی را ننموده و خیال باطل توهین به مقدسات اسلامی را از سر دور نمایند.

عالیه واحدیار

دنیا در دستان انسان نه در قلبش

سپاس و ستایش خداوندی را که پروردگار جهانیان و درود و سلام بر اشرف فرستادگان، سرور ما محمد صلی الله علیه وسلم و بر آل و اصحابش و کسانی که دنباله روایشانند.

کسانی را می بینید که اضافه تر از ما همتش را صرف دنیا کرده و دنیا را کمال علمش دانسته است، بدنبال دنیا بیشتر می شتابد و در راه بدست آوردن آن نعره می زند، هرگاه که کمترین چیزی از آن بدست می آورد تاختش را به دنبال دنیا افزایش می دهد بلکه بتواند چیزهای دیگری از آن بدست آورند اما، آخرت تجارتش کساد و بازارش رونقی ندارد جز گروه بسیار اندکی دیگران توجه نمی نماید، در حالی که اگر کسی در آیات قرآن تأمل و اندیشه نماید در می یابد که خداوند عزوجل در حین سخن از آخرت ما را تشویق می کند که تلاش بیشتری بخاطر کسب رضای خدا جل جلاله داشته باشیم:

ترجمه: ((و با انجام اعمال شایسته و بایسته، به سوی آمرزش پروردگار تان، و بهشتی بشتابید و بر همدیگر پیشی گیرید که بهای آن (برای مثال، همچون بهای) آسمانها و زمین است، (وچنین چیز با ارزشی) برای پرهیزگاران تهیه دیده شده است.)) (آل عمران: ۱۳۳)

و یا می فرماید:

ترجمه: ((بر یکدیگر پیشی بگیرید برای رسیدن به آمرزش و پروردگار تان و بهشتی که پهنای آن همسان پهنای آسمان و زمین است.)) (الحدید: ۲۱)

و یا می فرماید: ترجمه: ((بسوی (عبادت) خدا بشتابید)) (الذاریات: ۵۰)

و یا می فرماید:

ترجمه: ((مسابقه دهندگان باید برای بدست آوردن این (چنین شراب و سایر نعمتهای دیگر بهشت) با همدیگر مسابقه بدهند و بر یکدیگر پیشی بگیرند.)) (مطففین: ۲٦)

اما به هنگام سخن گفتن از دنیا تلاش بسیار اندکی مورد نظر است:

ترجمه: ((در اطراف و جوانب آن راه بروید و از روزی خدا بخورید.)) (ملک: ۱۵)

و یا می فرماید:

ترجمه: ((آن گاه که نماز خوانده شد، در زمین پراگنده گردید)) (جمعه: ۱۰)

دنیا و آخرت هر دو در قلب بندهٔ مؤمن جای نمی گیرند آن چنان که پیامبر صلی الله علیه وسلم می فرماید: هرکس که دنیایش را بیشتر دوست بدارد به آخرتش ضرر می رساند و هرکس که آخرتش را بیشتر دوست بدارد به دنیایش ضرر می رساند پس آنچه را که پایدار است بر آنچه که فانی و نابود شدنی است ترجیح دهید.

اما آیا پسندیده است که مسلمان دنیا را ترک کند؟!

بی گمان بیشتر مردم فهم درستی از حقیقت زهد در دنیا ندارند و می پندارند. زهد یعنی فقر و محرومیت دنیا.

حقیقت زهد در دنیا اینست که قلبها از محبت دنیا خالی شوند، چنانکه ابن قیم می گوید: فقر مالی نیست بلکه بینوایی قلب و خود شکنی و ذلت و خشوع و تواضع در برابر خداوند است و این نوع فقر هیچ منافاتی ثروت و توانمندی ندارد و فقر مادی منظور آن نیست. جنید بغدادی در تفسیر این آیه:

ترجمه: ((این بدان خاطر است که شما مأیوس نشوید بر آنچه که از دست دادید، ونه شادمان بشوید بر آن چه خدا به شما عطا نموده است)) (الحدید: ۲۳)

حقیقت زهد را چنین بیان می دارد: زاهد کسی است که به چیزهای دنیوی شادمان نگشته و چیزهایی که از دست می دهد غم نخورد.

امام احمد (رح) می فرماید: زاهد کسی است که اگر دنیا بدور وی آورد بدان خوشنود نگشته و اگر از او روی گرداند اندوهگین نمی شود. از او در مورد شخصی که هزار دینار دارد پرسیده شد که آیا چنین کسی زاهد است؟ در پاسخ گفت: آری، به شرطیکه: اگر زیاد گشت، خوشحال نشود و آنگاه که کاسته شد اندوهگین نگردد. زاهد آن نیست که آه در بساط نداشته باشد بلکه کسی است که دل مشغولی مال ندارد، اگر چه همچون قارون ثروتمند باشد.

از اینجا می توان نتیجه گرفت که اسلام خواهان آن نیست پیروانش دنیا را ترک گویند: بلکه موضوع، درست عکس آن است. اسلام از آنان می خواهد زمین را آباد گردانند زیرا آنان جانشینان خداوند در زمین اند و از آنان می خواهد تمامی مایه ها و عناصر قدرت را بدست گیرند و چرا این گونه نباشد در حالی که هم اینک مسلمانان در جنگی خانمانسوز با دشمنان شان گرفتار آمده اند..

اما اسلام با این وصف پیروانش را از نفوذ و رخنهٔ دنیا در دل هایشان باز می دارد تا نیت و همت آنان از کار کردن برای اسلام به سوی جاه طلبی و مقام پرستی و مال خواهی منحرف نشود.

آنچه شایستهٔ یک مسلمان است اینست که دنیا در دستان او باشد، نه در قلبش از کعب بن مالک (رض) نقل است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: دو گرگ گرسنه و درنده که به میان رمه گوسفندان افتاده اند تباه کننده تر از حرص و از فرد بر مال و شرافت دینی اش نیست. پس نباید هدف را کسب دنیا قرار بدهیم بلکه دنیا را مزرعهٔ الاخره فکر بکنیم تا سعادت دنیا و آخرت نصیب مان شود.

(والسلام علی من اتبع الهدای)

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(دولسمه برخه)

س۲۲۳: څوک لومړی په خلیفه سره یاد شو؟

ځ: ابوبکر صدیق رضي الله عنه.

س۲۲۴: چا لومړی د متعي نکاح منعه کړه؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۲۵: چا لومړی د آسونو زکات واخست؟

عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۲۶: چا لومړی خلکو ته د خپلو زکاتونو د ویستلو واک ورکړ؟

ځ: عثمان بن عفان.

س۲۲۷: چا د لومړي ځل لپاره د خپلو پولیسو لپاره قوماندان ونیولو؟

ځ: عثمان رضي الله عنه د لومړي ځل لپاره د خپلو پولیسو لپاره عبد الله د قنفذ زوي قوماندان ونیولو.

س۲۲۸: چا د لومړي ځل لپاره کور په دې خاطر ونیوه چې خلك په کې قصي او ناولونه ووايي؟

ځ: علي بن ابي طالب کرم الله وجهه.

س۲۲۹: چا په بیعه رضوان کې لومړی د پیغمبر علیه السلام سره بیعت وکړ؟

ځ: ابوسنان الاسدي، د ابن هشام په حواله.

س۲۳۰: چا د لومړي ځل لپاره د الله په لاره توره له تیغه راوویسته؟

ځ: زبیر بن عوام، هغه ته چا و ویل چې پیغمبر علیه السلام و وژل شو، نو هغه تنکې ځوان و، خپله توره یې له تیغه راوویسته او منډې یې کړې، همدا و چې د جرموز زوي دی په لاره کې و واژه، کله چې علي رضي الله عنه خبر شو ویې ویل: جرمز ډیر شریر قاتل دی.

س۲۳۱: د مهاجرینو نه څوك لومړی حبشي ته ننوتلو؟

ځ: مخکې تیر شو چې چا حبشي ته لومړی هجرت کړی، خو دلته حاطب د عمرو زوي د عبید لمسی او د امیه کړوسی لومړی هغه څوك و چې حبشي ته ننوتلو.

س۲۳۲: چا د عقبي په شپه لومړی د پیغمبر علیه السلام سره بیعت و کړ؟

ځ: لومړی کس چې د عقبي په شپه یي خپل لاس د پیغمبر په لاس د بیعت په موخه کیښود هغه د خزرج د قبیلي انصاري براءۀ د معرور زوي و.

س۲۳۳: د هجرت نه مخکې لومړی په اسلام کې څوك پیدا شوی دی؟

ځ: عبد الله د عمر رضي الله عنه زوي.

س۲۳۴: په انصارو کې لومړی څوك زیږیدلی؟

ځ: د خزرج په قبیله کې نعمان د بشیر انصاري زوي په انصارو کې لومړی زیږیدلی دی.

س۲۳۵: په بصره کې لومړی څوك پیدا شوی؟

ځ: عبد الرحمن د ابوبکر ثقفي زوي.

وړاند وینه: کله چې د چا ماشوم پیدا شي، نو سنت خبره دا ده چې په اومه ورځ که هلك وي باید سنت شي، او دوه پسونه پري حلال شي، او که جلۍ وي نو یو پسه، دینه په شرعي لحاظ عقیقه وايي، او د سر ویښتان یي کل شي، او د ویښتانو د وزن په اندازه سره زردی په غریبانو و ویشل شي.

س۲۳۶: څوك لومړی هغه کس و چې د هغه د سر د ویښتانو د وزن په اندازه سره زر پر غریبانو و ویشل شو؟

ځ: نعمان د بشیر انصاري زوي د خزرج.

س۲۳۷: د مسلمانانو څوك لومړی کس و چې پیغمبر علیه السلام پري د جنازي لمونځ وکړ؟

ځ: براء د معرور زوي.

س۲۳۸: چا لومړی په خط لیکنه کې د (الحمد لله) نه وروسته دا اضافه کړل چي (الله ته سوال کوم چې په محمد صلی الله علیه وسلم باندي درود و وايي)؟

ځ: هارون رشید.

س۲۳۹: څوك لومړی د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد په موخه په آس سپور شوی دی؟

ځ: مقداد د عمرو زوي.

س۲۴۰: کوم آس لومړی په اسلام کې زخمي شوی دی؟

ځ: د ابو طالب د لمسي جعفر آس د مؤته په غزا کې و.

س۲۴۱: لومړی غزا چې وژنه په کې وشوه کومه وه؟

ځ: د بدر غزا وه.

س۲۴۲: د احد په غزا کې لومړی شهید څوك و؟

ځ: د عمر زوي او د حزام لمسی عبد الله.

س۲۴۳: د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته لومړی فوځ چې د مدینې نه د جهاد په موخه و وت کوم و؟

ځ: د اسامه فوج لومړی هغه فوج و چې د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته د جهاد په نیت د مدینې منورینه و وت.

س۲۴۴: د مسلمانانو او رومیانو تر منځ لومړی جنګ کوم و؟

ځ: أجنادین لومړی جنګ و چې د مسلمانانو او رومیانو تر منځ په ۱۳السم هجري کال د جماد الأولی په میاشت کې د ابو بکر په خلافت کې واقع شو.

س۲۴۵: کله د لومړي ځل لپاره په جنګ کې صفونه جوړ شول؟

ځ: د بدر کبری په غزا کې کله چې د مسلمانانو او قریشو تر منځ جنګ و.

س۲۴۶: د مکې لومړی أمیر څوك و؟

ځ: عتاب د أسِیْد زوي ، پیغمبر علیه السلام و رته دا دنده سپارلي وه.

(نور بیا)

امریکا افغانستان ته نوي کارپوهان او سلاکاران استوي

امریکا، رسنۍ:
د امریکا د متحده ایالاتو دفاع وزارت غواړي، چې په افغانستان کې د امنیتي ځواکونو او ارګانونو د غښتلتیا په مقصد ځینو وزارتونو ته نوي کارپوهان او سلا کاران واستوي.
د تېر کال اوړې کې د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د خپلو بې تجربې روزونکو او قراردادیانو پرځای د تکړه کارپوهانو او سلا کارانو د استولو پرګرام پیل کړ او دا پروګرام یې "د دفاع وزارت مناسب سلاکاران" په نامه یاد کړی دی.
د ملګرتیا یا مشارکت، ستراتیژی او ثبات په چارو کې د امریکا د دفاع وزارت مرستیال ډاکتر جیمز شیر د سنا د وسله والو خدمتونو کمېټې ته وویل: د دغه پروګرام مقصد دادی چې د افغانستان وزارتونو ته تکړه، اغیزمن او په کارپوه ملکي سلاکاران برابر کړو.
ډاکټر شیبر وایي، د دفاع وزارت ملکي سلاکاران باید موافقه وکړي چې یو یا دوه کاله به په افغانستان کې پاتې کیږي او د کار له پیل مخکې به ورته د اوو اوونیو روزنه هم ورکول کیږي.

د امریکا د دفاع وزارت مرستیال ډاکټر جیمز شیبر وایي، کله چې موږ کابل ته خپل ۱۷ تنه سلاکاران واستول د دوو میاشتو په دننه کې جنرال پیټریاس له موږ نه وغوښتل، چې د روان کال تر پایه سل نور سلا کاران هم ور واستوو.
د امریکا د دفاع وزارت د سلا کارانو د دغه پرګرام پر اساس به شاوخوا دوه سوه سلا کاران کابل ته لاړ شي، د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې به د ملي پوځ او پولیسو د پلانونو او ستراتیژیو په چارو او ددغو وزارتونو د نورو ۲۵ پراختیایي پلانونود عملي کولو په چارو کې مرسته کوي.
په دې پلانونو کې لوژستیک، استخبارات، ستراتیژی، پالیسی، بودیجه، مخابرات، معلوماتي ټکنالوژي او نور شامل دي.
د کورنیو چارو د وزارت د نویو سلاکارانو دنده به دا هم وي، چې د افغان سلاکارانو په روزنې کې مرسته وکړي او د خپلو کارونو د پرمختګ راپور به د کورنیو چارو وزیر او د پولیسو په چارو کې د ایتلافي ځواکونو د قوماندانی مرستیالانو ته ورکوي.

واشنګټن پوست لیکي: دا مهال ستونزه داده، چې دا نوي سلاکارن په افغانستان کې د کار ځایونه یا کمپونه نه لري او د کورنیو چارو د وزارت یوه جګ پوړي قوماندان اجازه نه ده ورکړې چې په دغه وزارت کې امریکایي سلاکاران کمپ جوړ کړي.
د افغانستان دفاع وزارت کې امریکایي سلاکاره کیمبرلي اکولم وایي، د دې دنده دا وه چې د دفاع وزارت د معین په دفتر کې اداري او دفتري کارونه منظم او کمپوتري کړي.
دا وایي، کله چې ما د خپل پروګرام یا کارونو جاج واخیست و مې کتل، چې افغان مامورین بیا هم ټول کارونه په لاس او په پخواني سیستم تر سره کوي او له کمپیوتر څخه کار نه اخلي.
د مسلې د روښانتیا په مقصد مې له مربوطو چارواکو څخه وپوښتل، هغوی راته وویل، په کمپیوتر څوک نه پوهیږي.
کمبرلي وایي، له هماغې ورځې راهیسې یې نه یوازې د خپلې ډلې بلکه د دفاع وزارت په نورو دفترونو کې هم له کمپیوټر څخه د کټې اخیستنې او پروګرامونو د زده کړې کار پیل کړی دی.
د امریکا د دفاع وزارت مرستیال ډاکټر جیمز شیبر وایي، د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو د ظرفیتونو د لوړولو په پروګرام سربېره یې، د افغانستان او پاکستان په خبر د مشارکت کوونکو هېوادونو لپاره یو بل پروګرام هم تر لاس لاندې نیولی خو د دې پروګرام په اړه خلک زیات معلومات نه لري.
دا پروګرام د دفاعي انسټیټیوټونو د بدلون نوښت نومیږي، په دغه پروګرام کې د ملګرو هېوادونو د دفاعي توان او خلاو جاج اخیستل کیږي او د ضرورت په وخت کې ورته کارپوهان او مواد استول کیږي او دا پروګرام تر نامعلوم وخته دوام کوي.
د ډاکټر شیبر په وینا، د دغو دواړو پروګرامونو هدف دادی، چې د ملګرو هېوادونو د امنیتي ستونزو په حل کې همکاري وشي او دا ستونزې په هر هېواد کې توپیر لري.

د شمېرل شوو رایو پایلې به ژر اعلان شي "لویه څارنوالی"

کابل، رسنی:
د افغانستان لویه څارنوالی وایي، د ولسي جرګې د کاندیدانو د رایو بیا شمېرنه به په راتلونکو څه باندې دوه اونیو کې بشپړه او ستره محکمه به یې په هکله وروستی پریکړه اعلان کړي.
د لویې څارنوالی ویاند امان اله ایمان د سې شنبې په ورځ ازادی رادیو ته وویل چې له کابل ولایته پرته په نورو ټولو ولایتونو دا لړی په شفافه توګه پای ته رسیدلې ده.
ښاغلي ایمان د ولسي جرګې د کاندیدانو د رایو د بیا شمېرنې په هکله وویل: "له کابله پرته په نورو ولایتونو کې د رایو شمېرل بشپړ شوي په کابل کې په دوو کې بشپړ شي.
دا لړی په شفافه توګه پرمخ تللې، په دې کمیسیون کې د څوارلسو ارګانونو استازېو برخه اخیستې، ښه څارل شوې ده، موږ غواړو دا څل د کوم کاندید حق تر پښولاندې نه شي."
په افغانستان کې د ولسي جرګې د انتخاباتو د وروستیو پایلو له اعلان وروسته
یو شمېر کاندیدانو، ځینو خلکو او ان عدلي ادارو دغه انتخابات مشروع ونه ګڼل، خو کله چې معترضو کاندیدانو د دوي شکایتونو لوی څارنوالی ته وسپارل او په مظاهرو یې لاس پورې کړ، سترې محکمې د ستونزې د حل لپاره ولسمشر ته د یوې ځانګړې محکمې د جوړېدو پیشنهاد وکړ، چې جمهوررییس هم ومانه.
دی محکمې له څه باندې څلور میاشتو راهیسې کار پیل کړی او وایي چې په انتخاباتو کې یې د څېړلو وړ درغلي موندلې دی.
د معترضو کاندیدانو له ډلې کبیر رنځبر، سره له دې چې د ځانګړې محکمې له چارو راضي دی، خو نتایجو ته یې په بې صبرۍ انتظار باسي، ده ازادی رادیو ته وویل:
"د محکمې چارې ښې پر مخ رواني دي، خو لږ څه ځنډنۍ دی،موږ باور لرو چې د ولسي جرګې په لسګونو اوسنی غړی په درغلیو جرګې ته ورغلي دی. هیله ده ستره محکمه ژر تر ژره خپله پریکړه اعلان کړي."
شریفه زرمتی هیله ښیي، هغه کورني او بهرني لاسونه چې د دې محکمې نتایج ګډوډول غواړي، هغه دې ترې لرې وي:
"زموږ ډیرې ورکې رایې وموندل شوې، دا لړی بریالی ده، ښې نتیجې به ترې حاصلې شي، خو په دې شرط چې لاس وهنه به کې ونه شي."

پاکستان روي بعضی مجبوریت ...

دایمی نظامی آن کشور در افغانستان یکی از نگرانی های پاکستان شمرده می شود.
آقای مژده در ادامه گفت:
"پاکستان از قبل نگران وضع طالبان هم بوده و در این اواخر موضوع دادن یک دفتر نماینده گی در یک کشور خارج از منطقه یعنی ترکیه یکی از موجبات نگرانی پاکستان بوده است. پس با توجه به این مسایل به نظر می رسد که یک تغییر را ما در سیاست های پاکستان انتظار باید داشته باشیم، نباید زیاد خوشبین بود و هم نباید با بدبینی زیاد به این مساله برخورد کرد."
به روز شنبه این هفته یوسف رضا گیلانی صدراعظم پاکستان با شماری از وزرا، رییس اداره، استخبارات آن کشور و لوی درستیز پاکستان به افغانستان سفر کرده و در رابطه به ایجاد کمسیون مشترک صلح نیز صحبت هایی کردند.
در نشست مشترک خبری که رییس جمهور کرزی با صدراعظم پاکستان داشت، یوسف رضا گیلانی با تایید صحبت های رییس جمهور پاکستان، افغانستان را عامل بی ثباتی در پاکستان خواند. در همین حال برخی از کارشناسان موجودیت امنیت در افغانستان را به نفع کشور و پاکستان می دانند.
زبیر شفیقی یک کارشناس افغان در مورد چنین می گوید:
"افغانستان اگر امن نباشد پاکستان از لحاظ اقتصادی و روابط تجارتی با مشکلات مواجه می شود که همین فعلاً هم چنین است. اگر در افغانستان جنگ باشد همین پروژه، که قراردادش تازه امضا شده تطبیق آن با پاکستان ممکن نیست، تطبیق این پروژه در صورت ممکن است که در افغانستان امنیت باشد. این مسایل است که ما با پاکستان کمک کرده می توانیم و پاکستان با ما."
اما نگرانی های وجود دارد که پاکستان هیچ وقت با افغانستان رو راست و صادق نبوده و همیشه از سیاست دو گانه در برابر این کشور کار گرفته است.
با آن که شماری از تحلیل گران، پاکستان را عامل اصلی جنګ در افغانستان می دانند اما می گویند که به خاطر حل مشکلات اقتصادی و بهبود روابط میان دو کشور باید با پاکستان از راه دوستی سخن زد.
شماری از نماینده گان مردم در ولسی جرگه نیز سفر مقامات پاکستانی راسفر تشریفاتی بیش نداسته و می گویند که همچو سفر ها در درازمدت بر روابط افغانستان و پاکستان مثمر نخواهد بود.

د ۱۳۹۱ کال د مرغومي تر پایه ...

څخه د هندوستان د احتمالي په شا کېدو په اړه اندېښني زیاتې شوې، په هرات کې د دې هېواد سرقونسل ټینګار وکړ، چې هندوستان به هېڅکله د دې سترې پروژې له جوړولو څخه په شا نه شي.
د هرات په چشت شریف کې د سلما اوبو- برېښنا بند، چې په هېواد کې د سترې زېربنایي پروژې په توګه یادېږي، د هندوستان په بلاعوضه مرستې د جوړېدو په حال کې ده.
تاراچند، د سلما بند جوړول په افغانستان کې د دې هېواد د اعتبار یوه برخه وبلله او زیاته یې کړه: "کله چې موږ دغه پروژه پیل کړه، د هغه خطرونه مو په پام کې ونیول او اوس ټینګ هوډ لرو، چې په هره بیه چې وي، بشپړوو یې."
د هندوستان سرقونسل په تېرو څلورو میاشتو کې د ناامنیو له امله، د دې پروژې کار د بشپړ بندېدو په اړه خپاره شوي خبرونه رد کړل، خو دا یې ومنله، چې د کار لړی د اقلیمي ستونزو، یخنۍ، ورښت او ناامنیو له امله ټکنی شوې ده.
تاراچند وویل، چې په داسې حالاتو کې د پروژې د فعالیت کموالی معمولي ده او څرګنده یې کړه، چې د وسلوالو ډلو ترمنځ نښتو او ان د بند په شاوخوا سیمو کې ناامنیو، د دې بند د کارکوونکو پر روحیې ناوړه اغېزه کړې ده.

پنټاګون پر امریکایي اداري ...

راپور د عامې پرتلې ،له سرچینو څخه ګټه اخسته اوله اسلامي نړی سره دچلند په برخه کې سختې نېوکې کړې دی ددوی له انده امریکا اسلامي نړی ته د سختدریځی او بنسټپالنی له زوایې ګوري او هغه څه یې له پامه غورځولې دي ،چې امریکا یې دستر هېواد په توګه نورو ته وړپېژندلې ده څکه امریکایي چارواکو اوس دسیالی شرطونه او غوښتنې چور له پامه غورخولي دي.

در حال حاضر فقط ۳.۷ فیصد ...

در ماه سپتامبر ۲۰۰۹ به ۶۰۰۰ سرباز در ماه جاری رسیده است.
وي در مورد زمان دستیابي به هدف ناتو مبني بر استخدام ۳۰۵ هزار سرباز و پولیس افغان اظهار کرد: انتظار داریم قبل از پایان ماه اکتوبر سال جاري ۳۰۵ هزار سرباز افغان و پولیس جهت اداره کشور و برقراري امنیت و صلح در افغانستان استخدام شوند.
جنرال کالدول با اشاره به افزایش روند جلب و جذب سربازان در افغانستان اظهار کرد: به دلیل افزایش روند جلب و جذب سربازان احتمال دارد یک یا دو ماه قبل از زمان تعیین شده براي استخدام ۳۰۵ هزار نیروي افغان به این هدف برسیم.
وي اظهار کرد: بزرگترین چالش براي ایجاد نیروي امنیتي ملي خود کفا در افغانستان کمبود تجربه بطور خاص در زمینه آموزش افسران اردو و پولیس و دستیابي آنها به آموزش و تجربه کافي براي فعالیت و مبارزه با بي‌سوادي در میان نیروهاي این کشور است.
کالدول با بیان اینکه دولت امریکا سالانه ۱۰۰ میلیارد دالر به نیروهاي خود در افغانستان اختصاص مي دهد، اظهار کرد: ۱۰ میلیارد از این بودجه براي آموزش نیروهاي امنیتي افغانستان صرف مي‌شود و اگر بتوانیم یک سال زودتر از زمان تعیین شده نیروهاي امریکایي را از افغانستان بیرون بکشیم، بودجه ي ۱۰ سال نیروهاي امنیتي افغانستان تامین خواهد شد.
جنرال کالدول بر ضرورت افزایش توان امنیتي افغانستان جهت تشویق سرمایه داران براي سرمایه گذاري در این کشور تاکید کرد و گفت: براي افزایش درآمد ملي دولت و توانایي آنها براي صرف نظر کردن از کمک‌هاي بین المللي، تامین امنیت در افغانستان ضروري است که در صورت افزایش امنیت در این کشور سرمایه‌هاي زیادي به سوي این کشور سرازیر خواهد شد.
جنرال کالدول افزود: همین اکنون مساله ي بررسي چگونگي کشاندن سرمایه‌ها به افغانستان را در دست بررسي داریم و با اطمینان از توانایي افغان‌ها براي اداره کشور با حمایت لوجستیک و ایجاد سازمان‌هاي صحي و غیره در این کشور همانند آکادمي نظامي و آکادمي پولیس و مراکز آموزشي مي توان سرمایه گذاري در این کشور را بالا برد.
مسئول آموزش نیروهاي افغانستان جلب و جذب سربازان از میان قوم پشتو را چالش جدي براي مسئولیت خود خواند و گفت: سربازان پشتو تنها ۳.۷ فیصد سربازان افغانستان را تشکیل مي‌دهند. در حالي که هدف ما این است که ۱۰ فیصد از نیروهاي افغانستان از قوم پشتو باشند. اما سربازان تاجک ۸ فیصد از اردوی ملي افغانستان و بیش از ۱۵ فیصد از نیروهاي پولیس این کشور را تشکیل مي‌دهند.
وي با اشاره به مدت حضور خود در افغانستان اظهار کرد: ۱۸ ماه است که مداوم در این کشور هستم و طي این مدت توانسته‌ام دیدگاه خوبي درباره مسائل این کشور بدست آورم. همیشه این سوال را از خود مطرح مي کردم که آیا افغان‌ها مي‌توانند یک یا دو ماه پیش از زمان تعیین شده به اهداف خود برسند. هرچند که کمبود نیروها همچنان چالش بزرگ اردوی افغانستان است، اما در میان نیروهاي پولیس تنها با یک فیصد کاهش رو به رو هستیم و این کمترین فیصدي است که یک کشور در جهان به آن دست یافته که نشانهء موفقیت افغان‌هاست.
جنرال کالدول با اشاره به اینکه هدف اصلي این است که نیروهاي امنیتي افغانستان تا دسمبر ۲۰۱۴ بتوانند مسئولیت امنیت این کشور را برعهده بگیرند، تصریح کرد: در صورت ادامه‌ي تلاش‌هاي کنوني ما و ادامه‌ي تلاش هاي پر اهمیت افغان‌ها، به احتمال زیاد نیروهاي امنیتي افغانستان مي‌توانند اوایل سال ۲۰۱۴ وظیفه ي تامین امنیت این کشور را برعهده بگیرند.
وي دربارهء تظاهرات اخیر افغان‌ها در کابل در اعتراض به سوزاندن قرآن کریم توسط یک کشیش امریکایي اظهار کرد: اقدام برخي افراد در امریکا براي سوزاندن قرآن کار بسیار زشتي بود و این اقدام دیدگاه‌هاي ما امریکایي ها را منعکس نمي کند، اما احتمال دارد که مشکلات بزرگي براي نیروهاي امریکایي در سایر کشورها بوجود بیاورد.
جنرال کالدول در مورد روند صلح دولت افغانستان با جنبش طالبان تصریح کرد: افغانستان همین اکنون تلاش زیادي براي دستیابي به صلح انجام مي‌دهد و ما مي‌دانیم که هرگز نمي‌توانیم در این کشور پیروز شویم و به سازش سیاسي نیاز داریم که دولت افغانستان باید مسئولیت آن را برعهده داشته باشد.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اوونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com